# د افغانستان اسلامی جمهوریت
# د لوړو زده کړو مؤسسه
# سبا د لوړو زده کړو مؤسسه
# اقتصاد پوهنځی
# اداره او تجارت څانگه

# بودیجي سیاست

**استاد: عزت الله عرفاني**

**سمسټر: شپږم سمسټر**

**لومړي درس.**

**کال: ۱۳۹۹هـ ش**

# د بوديجي مفهوم




- بوديجي ته په لاتيني ژبه کي (bulga) او په فرانسوي ژبه کي ورته (boudgette) چي د ځرمني په معني دی کارول کيدل. وروسته له ډيره وخته څخه همدا کليمه په انگليسی ژبه کي هم مروجه وسه چي په انگليسی ژبه کي ور ته (budget) ويل کيږي.
- بوديجه د لومړي ځل لپاره په فرانسه کي ۱۸۱۴م کال کي د دولت د عوايدو او مصارفو په مورد په کار يوړل سول.

# بودیجه څه ته ویل کیږي.

- بودیجه د یو مالي طرحي څخه عبارت ده چي په دی طرح کي د دولت پولي ضرورتونه او تمویلي منابع په ټولیز ډول سره د یوي محدودي مودي لپاره تخمنیږي
- یا په بل عبارت بودیجه د عوایدو او مصارفو پیشبني سوي لایحي ته ویل کیږي
- بودیجه هغه پلان ته ویل کیږي چي لګښتونه پیشنهاد کوي او د اجراتو په موخه د یوي معیني دوري ښودنه کوي.

# بودیجه څه ته ویل کیږي.

- د یوی معلومی دوری لپاره ترتیب سوي مالی او مقداری صورت حساب دي چې په یوه معلومه دوره کي د ټاکل شوو موخو د لاسته راوړلو په خاطروخت او کاریدونکي سیاستونه څرګندوي.
- د یو معلوم وخت لپاره د هغه مقدار پیسو څخه عبارت ده چې د یو معلومي موخي د لاسته راوړلو لپاره په کار اچول کیږي.

# سیاست څه ته ویل کیږي

د سیاست کلمه د عربي ژبی د ساس یا یسوس له مصدر څخه اخیستل سوي ده چي لغوي معني ده اصلاح کول او ښایسته کول.

او په اصطلاح کي سیاست د حکومت او د یو هیواد د کارونو او فعالیتونو په ښه ډول ترتیبولو او سمبالولو ته ویل کیږي

سیاست زیاتي معناوي افاده کوي مثلا: قضاوت کول،د حکومت د چارو څخه لیدنه کول جزا ورکول. رهبری کول دولتي چاري سمبالول.

# د اقتصادی سیاست تعریف

- اقتصادي سیاست له هر هغه قصدي اقدام څخه عبارت دی چې داقتصادي وضعیت دبدلولو لپاره، له یوی اویاڅو اقتصادي وسایلو څخه په ګټي اخستني سره، یو اویا څو اقتصادي اهدافو ته درسیدلو په موخه، ددولت اویا بل باصلاحیته مقام (پالیسي جوړونکي) له لوري عملي کیږی.

# اقتصادي اهداف

- اقتصادي اهداف د یو هیواد د ټولو هغو اهدافو او موخو څخه عبارت دي چي یو هیواد یی د اقتصادي حالت د بهبود او ښه والي لپآره د اقتصادي وسایلو په وسیله د لاسته راوړلو اراده ولري.

## اقتصادي اهداف

1. د قیمتونو ثبات
2. اقتصادي وده
3. د تادیاتو د بیلانس توازن
4. استخدام
5. ټولنیزو او عامه خدماتو ته لاس رسی دي.
6. د عوایدو زیاتوالي دي

## اقتصادي وسائل

1. د مالي او د ټکس فیصدي
2. د معاشاتو او مزد اندازه
3. د قیمتونو سطحه
4. تعرفه
5. دولتي مصارف
6. د اسعارو نرخ

# بودجوي سیاستونه

- بودجوي سیاستونه د پالیسي سیاست یو مخصوص ډول دي. هغه پوښتنې چي په دغه ارتباط وړاندې کیږي، عمدتاً د عوایدو او مصارفو د مقدار سره تړاو لري، چي په لاندې ډول یي وړاندې کولاي شو:
- د عوایدو په تړاو پوښتنه: څومره عواید د کومو منابعو «کومو کسانو» څخه لاسته راځي؟
- د مصارفو په تړاو پوښتنه: څومره مصارف د څه شي له پاره؟

# بودیجوي ساستونه

- د بوديجي تر عنوان لاندي د بوديجي د سياست د تدابيرو تاثيرات پر هغه مهمو عواملو باندی چي توليدي ساختمانونه په یوه اقتصاد کي تر تاثير لاندي راولي تر بحث نیول کیږي.

- او یا هم د بوديجي سياست عبارت د ټولو هغو پالیسیو او تګلارو څخه دي چي پکي د دولت د مصارفو لپاره تمویلي منابع او د بوديجي مصرفولو څرنګوالي بیان سوي وي، تمویلي منابع مو کومي دي او همدارنګه دا بوديجه څنګه، چیري، څه وخت او پر څه شی باندی مصرف کړو.

# مالي پالیسی Fiscal policy

- مالي پالیسی د لوي اقتصاد د اهدافو د لاسته راوړولو په خاطر د دولت د مصارفو د سر ته رسولو او د مالیاتو د راټولو په تړاو د سیاست څخه عبارت ده

- یعني د هغه تګلاري څخه عبارت دي چي پکښې دولت یې اقتصادي اهدافو(د قیمتونو ثبات ،اقتصادي وده ،د تادیاتو د بیلانس توازن،استخدام ،ټولنیزو او عامه خدماتو ته لاس رسی دي، د عوایدو زیاتوالي) ته د لاس رسی لپاره د مصارفو د سرته رسولو او همدارنګه د همدا مصارفو لپاره د مالیاتو د راټولو تصمیم نیول کیږي.

# Types of fiscal policyد مالي پالیسي ډولونه

داچي هر عنصر او پدیده حالاتو او ځانګړتیاوو ته په کتو سره ډولونه لري همدا شان مالي پالیسی هم په لاندي ډولونو باندی ویشل سوي ده:

1. بی طرفه پالیسی Neutral policy

بی طرفه پالیسی د یو هیواد د اقتصاد د تعادل په حالت کي ور څخه ګټه اخیستل کیږي. همدا پالیسی عبارت د هغه پالیسي څخه ده چي پکښي د دولت ټول مصارف د لاسته راغلي مالیی څخه تمویلیږي.

2. توسعوي پالیسی Expansionary policy

توسعوي پالیسی د اقتصاد د رکود په حالت کي رامنځته کیږي تر څو اقتصادي فعالیتونه زیات کړي. او عبارت د هغه پالیسی څخه ده چي پکښی د یو هیواد دولت خپل مصارف د خپلو مالیاتو څخه زیات سر ته رسوي.  چي واقعي محصولات، استخدام او عواید زیادت و مومي. تر څو د اقتصاد رکود څخه ځان وژغوري.

3. انقباضي پالیسی Contractionary policy

همدا پالیسی د انفلاسیون د مخنیوي په موخه د دولت د پورونو د تادیه کولو لپاره په کار وړل کیږي. په همدي پالیسی کي د دولت خپل لګښتونه د لاسته راغلي مالیی په پرتله کم وي. په همدي پالیسی کي د توسعوي پالیسی برعکس واقعي محصولاتو، استخدام او عوایدو کچه کمه وي.

# د مالی پالیسی اهداف

1. د قیمتونو ثبات — Price stability
2. د مستهلکینو ذوق تر تاثیر لاندی راوستل — Influencing the consumption patter n
3. د استخدام کچه لوړول — Raising level of employment
4. د عوایدو بیا توزیع کول — Redistribution
5. اقتصادي پرمختگ — Economic development
6. د تادیاتو پا بیلانس کی کسر له منځه وړل — Removing of deficit in balance of payment

# لاندي پاليسی د اقتصادي حالت د ثبات لپاره په کار اچول کيږي

- د مالياتو مترقي سيستم — Progressive system of taxation
- اجتماعي اعانه — Welfare contribution
- د زراعتي توليدتو د نرخونو د حمايه کولو پاليسی — Agriculture price support policy

## د مالی پاليسی ستونزی

1. زماني ځنډ:

- د تشخيص او پيژندني ځنډ
- اداري ځنډ
- اجرايئ ځنډ

2. جبراني اثر

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د لوړو زده کړو مؤسسه
سبا د لوړو زده کړو مؤسسه
اقتصاد پوهنځی
اداره او تجارت څانگه

# بوديجي سياست

## دوهم فصل

استاد: عزت الله عرفاني
سمستر: شپږم سمستر
کال: ۱۳۹۹هـ ش

# د دولت بودیجه د ساختماني سیاست د وسیلي په توګه

د بودیجي تر عنوان لاندي د بودیجي د سیاست د تدابیرو تاثیرات پر هغه مهمو عواملو باندی چي تولیدي ساختمانونه په یوه اقتصاد کي تر تاثیر لاندي راولي تر بحث نیول کیږي.

## تولیدي ساختمانونه:

1. منطقوي تولیدي ساختمانونه.
2. سکتوري تولیدي ساختمانونه.
3. د عواملو تولیدی ساختمانونه.

# د بودیجي د سیاست تاثیرات پر تولیدي ساختمانونو باندی

د بودیجي سیاست هم د عوایدو د سیاست له لاري او هم د مصارفو د سیاست له لاری پر تولیدي ساختمانونو باندی تاثیر کوي، چي په لاندي ډول تری یادونه کوو.

1. **پر تولیدي ساختمانونو باندی د بودیجي د مصارفو تاثیرات.**

- د دولت د مصارفو له جملي څخه د اجناسو دخریداري لپاره د دولت د فرمایشاتو سکتوري او منطقوي تاثیرات.
- د دولت مصارف د تخنیکي تاسیساتو لپاره.
- د دولت د استخدام د مصارفو تاثیرات پر تولیدي ساختمانونو باندی.
- د دولتي مرستو تاثیرات پر تولیدي ساختمانونو باندی.

  ۱: انطباقي مرستي

  ۲: محافظتي مرستي

- د دولتي قرضونو د ورکړي تاثیرات پر تولیدي ساختمانونو باندی.

# ۲. پر تولیدي ساختمانونو باندی د بودیجي د عوایدو تاثیرات

د بودیجي عواید هم لکه څنګه چي مصارفو پر تولیدي ساختمانونو باندی تاثیر واردوي همدارنګه بودیجوي عواد هم تاثیر واردوي او تولیدي ساختمانونه تر خپل تاثیر لاندی راولي.

او د دوي په کموالي سره تولیدي ساختمانونه په کار اجول کیږي او د خصوصی سکتور د تشویق سبب ګرځی. لکه د مالیاتو کموالي، د برق د بیل معافي،د تعرفي کموالي.

**مالیات په کومو مرحلو کي پر تولیدي ساختمانونو باندی تاثیر کوي**

- مالیاتي مرستو په حالت کي.
- د خرڅلاو د مرحلو په کموالي.
- د تعویضي تاثیراتو د رامنځته کولو په حالت کي.
- د تصدیو د حقوقي شکلونو د تغیر په حالت کي.

# ۳. د بوديجي تاثيرات د ملي عايد پر ساختمان باندى

د همدي بحث تر عنوان لاندي د بوديجي د سياست تاثيرات د تر لاسه شوي عايد يا هغه عايد كوم چي موږ په لاس كي لرو، په كار اچول د مصرف او پس انداز په ساختمان باندى تر څېړني لاندي نيول كيږي.

**د بوديجي د سياست وسايل او تدابير او د هغوي تاثيرات پر مصرف او پس انداز باندى.**

- په مجموعي عاد كي د مصرف او پس انداز نسبت او د هغوي په وسيله د پانګي اچووني پرزياتوالي تاثير.
- د لګښتونو پر جوړښت باندى تاثير.

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د لوړو زده کړو مؤسسه
سبا د لوړو زده کړو مؤسسه
اقتصاد پوهنځی
اداره او تجارت څانګه

# بودیجي سیاست

## د دولت بودیجه په معقوله توګه د تولید  عواملو د په کار اچولو د وسیلي په توګه

استاد: عزت الله عرفاني
سمستر: شپږم  سمستر
دریم فصل.
کال: ۱۳۹۹هـ ش

# دریم څپرکی

## د دولت بودجه د تولید د عواملو د په کار اچولو د یوی وسیلې په توګه

د (کرشن) د څیړنیزو پایلو مطابق په یو شمیر هیوادونو کي د انکشافي او اقتصادي همکاریو د سازمان په شمول په معقوله توګه د تولید د عواملو په کار اچول یی، د دې له پاره دي، ترڅو د تولیدي ساختمانونو د ښه کولو او همدارنګه د هغه تصدیو د اقتصادي وضعې د ښه والي له پاره چي مرسته ورسره شوې وی.

# ادامه....

- همدارنګه که چیرې دغه ستر او ملي اهداف نه پلی کیږی، د بیلګې په ډول د په ځان بسنې اهداف په نظر کي نه وی؛ باید د هغه ټولو حمایوي مرستو څخه هم ډډه وشي؛ ترڅو د یوې خوا څخه دولت زیانمن نشي او له بلې خوا څخه د سیالی قدرت هم محدود نشي.
- په ځانګړې توګه لاندې اهداف د بودجې په واسطه تر لاسه کیدای شي.

# د بوديجي په وسيله موږ لاندي هداف لاسته راوړو

۱. د داخلي سيالي تقويه او تشويقول.

- د دولت عوايد د رقايت هڅوني د وسيلي په توگه
- د بوديجي لگښتونه د سيالي د هڅوني يا تشويق د وسيلي په توگه

۲. د کار داخلي قوي تحرک لوړول.

۳. د داخي سرمايي هڅونه

۴. د کار نړيوال ويش تقويه کول

# ۱- د داخلي سيالۍ تقويه او تشويقول

- يو دولت د قانوني او اقتصادي سياست د تدابيرو په وسيله کولی شي، سيالي يا رقابت تشويق کړي. د بيلګي په ډول د انحصاري تمايلاتو په خلاف موثره تدابيرو نيول، چي دغه تمايلات سيالۍ له منځه وړي او انحصار را منځ ته کوي.
- د دې تر څنګ؛ د بودجې سياست هم که د مصارفو له لوري وي او که د عوايدو له پلوه وي مهم وسايل لري، چي دغه وسايل هغه عوامل له منځه وړي چي د رقابت يا سيالۍ د پراختيا مخه نيسي او د سيالۍ له پاره لاره هواروي

# الف ـ د دولت عواید د رقابت هڅونې د یوې وسیلې په توګه

- لکه چې مخکې مو وویل د خرڅلاو په دوران کې، یو مرحلوي مالیات هغه ډول مالیات دي، چې تصدی ګانې دې ته هڅوي چې سره یو ځای شي او سیالی یا رقابت محدودوی. د دې دلیل دا کیدای شي، لکه چې په پورته ډول مو وویل د تصدیو اجناس په بازار کې تر مالیې لاندې راځي د تصدیو په داخل کې اجناس تر مالیې لاندې نه راځي

## ب ـ د بودجې لګښتونه د سیالۍ هڅونې یا تشویق د یوې وسیلې په توګه

- د دولت د مصارفو له اړخه دولتي مرستې د تصدیو له پاره د رقابت د محدودیت سبب ګرځي. دغه مرستې که په هر شکل وي د تصدیو مالي حالت د ښه کیدو خوا ته بیایي او په دې اساس تصدیو ته یو ډول کامیابي او د سیالۍ قوت ورکوي. د نورو تصدیو په نسبت، د دې له پاره چي دغه مرستې د تصدی تولیدي ساختمان او اقتصادي وضع د ښه والي له پاره وي؛ او همدغه هدف مو تر لاسه کړی وي او له بلې خوا د رقابت مخه نه وی نیول شوي نو باید دغه مرستې دایمي نه وي،

# ۲- د کار داخلي قوې تحرک لوړول

- د دې له پاره چي د يوه هيواد په داخل کي د کار قوه تحريک شي او پورته ولاړه شي تر زياته حده بايد يو دولت هڅه وکړي چي پوره امکانات ورته برابر کړي که نه نو مصروف خلک به هغه ساحاتو ته ولاړ شي چي هلته د کار شرايط ښه وي. په دې سره به د کار قوه کمه شي. هغه تاثيرات چي د کار په قوه واردوي دا دی چي هغه پر امنه يا په شرايطو برابرو ساحاتو کي کارګر زياتيږي او مزدونه کميږي چي دا په ملي اقتصاد باندي تاثير واردوي. همدارنګه هلته چي شرايط ښه وي د کاريګر عرضه کمه او مزدونه لوړ وي، چي دا هم په ملي اقتصاد ناوړه اغيزه کوي؛

# ۳- د داخلي سرمايې هڅونه

- د سرمايې تحريک کيدای شي، چې د بازار د يوې پايلې په واسطه اصلاح شي. د بيلګې په ډول وړې تصدی چې د لويو تصديو په نسبت کم امکانات لري او همدارنګه په ډيرو سختو شرايطو او لوړ سود سره پانګه تر لاسه کوي، چې په دې سره د هغوی د اجناسو تمام شوی قيمت لوړ او د سيالۍ توان يې هم کمزوری کيږي؛ د لويو تصديو په نسبت،

# ادامه....

- ځکه چي لويې تصدی په ښو شرايطو او ټيټ سود سره پانګه تر لاسه کوي. د دې له پاره چي دغه نيمګړتيا رفع شي بايد دولت وړو او متوسطو تصديو ته په ټيټ سود سره قرضونه ورکړي او هغوی ته ښه شرايط برابر کړي؛ ترڅو د هغوی اړتياوې مرفوع شي. په دې سره د تمام شد يا تمام شوی قيمت او رقابتي يا د سيالۍ وضع يې ښه کيږي.

# ۴- د کار نړیوال ویش تقویه کول

- د کار نړیوال ویش تقویه کول (په تولید کي تخصص) هغه وخت پیاوړی کیږي، چي ټولو هغو د بودجوي سیاست تدابیرو څخه ډډه وشي، کوم چي د ازادې سوداګری د محدودیت سبب ګرځي. لکه د دولت د عوایدو له اړخه د حمایوي ګمرکي محصولاتو اخستل - چي ازاده سوداګري ډیره محدودوي. د دې په واسطه د وارداتي اجناسو قیمتونه لوړیږي او د نوموړی جنس له پاره تقاضا هم کمیږي او د دې په واسطه واردات کمیږي.

# ادامه....

- د وارداتو دغه کموالی په ځانګړي ډول په هغه وخت کي چي بل هیواد هم همداشان عمل د دې هیواد په مقابل کي تر سره کړي د کار ګټور نړیوال ویش متضرره کوي.

✓که چیری داخلی تقاضا کمه شی (مثلاً د مالیاتو د زیاتوالی او د دولتی تادیاتو د کموالی په وسیله) پدی صورت کی تقاضا وارداتی امتعی ته هم کمیږی،

# ادامه....

- چې د تقاضا کموالی د قیمتونو د ټیټدو سبب ګرځی او د بهرنیانو لپاره داخلی امتعه ارزانه تماميږی، د صادراتو د زیاتیدو سبب ګرځی. نو پدی طریقه سره به واردات کم او صادرات به زیات شی.
- ولی دغه سیاست دوه عمده مشکله له ځانه سره لری.

# ادامه....

- د دغه سیاست مؤثریت د مخ پر وده هیوادونو لپاره یا د همغه دولت لپاره ډیر ناچیز دی، ځکه چی د وارداتو د تفاضل د منځه وړلو لپاره په عین وخت کی بیکاری منځ ته راځی، یعنی اګر چی دغه سیاست واردات کموی ولی تأثیر ئی پر بیکاری باندی زیات دی. نو با وجود ددی چی د بهرنی تجارت هدف پوره کیږی، ولی د کامل استخدام د سیاست سره په ټکر کی دی.

# ادامه....

- ✓ او دغه تضاد د هدفونو په صنعتی دولتونو کی په معکوس ډول سره ظاهریږی. چی په دغه دولتونو کی اضافی استخدام، انفلاسیون او د صادراتو زیاتوالی هم زمان د هغی سره وجود لری.

د حمایوي ګمرکي محصولاتو په صورت کي اساسي هدف چي د داخلي صنایعو پیاوړتیا ده، ترلاسه کیږي چي په دی حالت کي د کار نړیوال ویش او د حمایوي هدف تر منځ یو تضاد واقع کیږي؛ نو د دې له پاره چي دلته حمایوي هدف ته د لومړیتوب حق ورکړل شوی، د کار نړیوال ویش متضرره کیږي.

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د لوړو زده کړو مؤسسه
سبا د لوړو زده کړو مؤسسه
اقتصاد پوهنځی
اداره او تجارت څانگه

# بوديجي سياست

## د تادياتو بيلانس او د بوديجي سياست

استاد: عزت الله عرفاني
سمسټر: شپږم سمسټر
څلورم فصل.
کال: ۱۳۹۹هـ ش

# څلورم څپرکی
## د تادیاتو بیلانس او د بودجې سیاست

د تادیاتو بیلانس د هغه سند څخه عبارت دی چې په هغه کې ټولی معاملی او مبادلی (د کالیو او خدمتونو راکړه ورکړه (تجارت)، خدمتونه، د قرضونو راکړه ورکړه، د سرمایه ګذاری سرته رسول او د بلاعوضه کمکونو راکړه ورکړه) د یوه مملکت د حقیقی او حقوقی اشخاصو (تجار، شرکتونه، مؤسسی، بانکونه او دولتی ارګانونه) او خارج تر منځ د یو کال په موده کی په منظم ډول ثبت کیږی.

# ادامه....

- د تادیاتو بیلانس عبارت د هغو تادیاتو پرتله کولو څخه دی، چی د یوه کال په دوران کي د یوه هیواد او نورو بهرنیو هیوادونو په منځ کي صورت نیولی وي. د تادیاتو بیلانس په دوامداره توګه باید د توازن په حال کي وي؛ مګر د عمل په ساحه کي د تادیاتو بیلانس منفي او مثبت شکل لري. کله چی د یو کال په موده کی ټول په لاس راغلی شیان یا ټولی معاملی او مبادلی په داخل د سرحداتو د یوه مملکت کی د ټولو ورکړل شویو یا د سرحداتو څخه د بیرون شویو شیانو په مقابل کی مساوی وی د تعادل، که لوی وی د کسر او که کم وی د بیلانس تادیاتو د مازاد په نامه یادیږی.

# ادامه....

- د مازاد په حالت کی د خارجی پیسو په مقابل کی د داخلی پیسو د ارزښت د زیاتوالی او د کسر په حالت د خارجی پیسو په مقابل کی د داخلی پیسو د ارزش د کموالی سبب ګرځی.
- د تادیاتو په بیلانس کی تغییرات د مختلفو عواملو په وسیله صورت نیسی.

# د تادياتو د بيلانس بې توازني

- د تادياتو د بيلانس د بې توازنۍ يو لامل د تبادلې د غير واقعي نرخ ټاکل دي. په دې معنې چې کله د يوه هيواد د پيسو نرخ ټيټ وټاکل شي، په دې صورت کې د دې هيواد د اجناسو صادراتي قيمتونه ټيټيږي او دی هيواد ته وارداتي قيمتونه لوړيږي. لکه څنګه چې د دې هيواد پيسو ارزښت د بهرنيو هيوادو په نسبت ټيټ وي؛ نو د دې هيواد صادرات زياتيږي؛ ځکه د دې هيواد اجناس بهرنيو هيوادو ته ارزانه وي او واردات يې کميږي، چې دلته د تادياتو په بيلانس کې د دې هيواد مازاد رامنځ ته کيږي او برعکس همداشان عمل تر سره کيږي.

# ادامه....

- که چیری د یوی پیسی ارزش کم شی نتیجه ئی دغه ده چی بهرنی امتعه د دغه هیواد لپاره چی پیسی ئی ارزش کم کړی قیمته تماميږی. او داخلی امتعه د بهرنیانو لپاره ارزانه تماميږی. مثلاً که د افغانی ارزش د ډالر په مقابل کی کم شی، فرضاً د ۲۰ واحده په اندازه یعنی د ۱۰۰ څخه ۱۲۰ ته لاړه شی.

# په خلاصه ډول د بی توازنی عمده لاملونه

- په قیمتونو کی تغیرات د پیسو د تبادلی د نرخ له طریقه.
- د عاید د تغیراتو له طریقه.
- په دوران کی د پیسو د حجم د تغییراتو له طریقه.
- په داخل کی د قیمتونو لوړوالی نسبت خارج ته.
- د سلیقی تغییر.
- د تکنالوژی تفاوت.
- د دولت اقتصادی او سیاسی سیاستونه
- سیاسی ګډوډی او نا آرامی یا د اقتصادی او سیاسی ثبات نشتون
- طبیعی او اجتماعی عوامل لکه سیل، زلزله، اعتصابات او انقلابات

# د بودجې سیاست د تادیاتو د بیلانس د سیاست د یوې وسیلې په توګه

- کله چې د بیلانس د کسر لامل انفلاسیون وي؛ پداسې حالت کې باید د دې ډول کسر د لېرې کولو له پاره د انفلاسیون ضد تدابیر او وسایل د بودجې د سیاست د وسایلو په واسطه له منځه یوړل شي، چې د بودجې د سیاست مهم وسایل عبارت دي له

# د بودیجي د سیاست مهم وسایل او تدابیر د تادیاتو د بیلانس

1. د موقتي مالیاتو زیاتوالي چي کتلوي او وسیع تاثیرات ولري.
2. د دولتي قرضونو د تر لاسه کولو په ذریعه د خلگو د تولیداتو او اجناسو ته د تقاضا کمول.
3. د دولتي قرضونو د ورکړي څخه ډډه کول.
4. د داسی ډول پانگه اچونو څنډونه یا کمونه چي تر عایداتي تاثیراتو یی ظرفیتي تاثیرات زیات وي.